احمد جاوېد صديقي

# ژبه څه شی ده؟

**لنډیز**
له تاریخي او تحقیقي پلوه ټول علوم او فنون د یونان په فلسفي او علمي زانګو کې زنګېدلي، رشد یې کړي او د تکامل مختلف پړاونو یې تېر کړي دي، ژبه هم په لرغوني یونان کې څېړل شوې ده، چا د شي او د مانا تر منځ رابطه طبیعي او چا قراردادي ګڼلې او د ژبې د ماهیت او پیدایښت په باب یې تاوده بحثونه کړي دي، هماغه مباحث د معاصرې ژبپوهنې اساس جوړوي او معاصره ژبپوهنه هم د همغو فلسفي افکارو پر بنسټ ولاړه ده او ډېری افکار یې ترې را پور کړي دي، چې د هغو له جملې څخه دکارت، فردینان دو سوسور، نوام چامسکي او... د یادونې وړ شخصیتونه دي. په معاصرې ژبپوهنې کې دکارت، چې د ژبې او ژبپوهنې په اړه مهم نظریات لري ، د ژبې په اړه وایي چې ژبه د انسان ځانګړنه او دنده یې د افکارو بیان دی. انسان وړتیا لري په هغو جملو چې مخکې یې نه وي اورېدلي، پوه شي او له ځانه نوې جملې تولید کړي، په داسې ډول چې نور هم هماغه تعبیر ترې واخلي کوم چې ده ترې لرلی دی. په دې لیکنه کې د ژبې په باب د افلاطون او ارسطو ډېر لنډ نظریات راخیستل شوي دي. د موضوع ډېره برخه د معاصرې ژبپوهنې په رڼا کې توضیح شوې ده، په همدې اساس د دکارت، فردینان دو سوسور او نوام چامسکي نظریاتو څخه پکې ډېره استفاده شوې ده. همدا راز د ژبپوهنې پر دوه انقلابونو هم بحث شوی دی، او دا مقاله تر پایه د همدغو فکري مسیرونو په رڼا کې څېړل شوې ده. دویم فکري خوځښت پر کل ګرایي (holism)، ذهن ګرایي (Mentalism) را څرخي؛ خو دریم فکري بهیر بیا ژبه ذاتي او ژنتیکي ځانګړنه ګڼي، کومه چې له پیدایښت راهیسې زموږ په ذهن کې وجود لري، یعنې دا فکري نهضت، د یوې واحدې جهاني ژبې (Universal language) او جهاني ګرامر (Universal grammar) پر موجودیت باور لري، چې په دې لیکنه کې په تفصیل پرې خبرې شوي او د نامتو ژپوهانو له نظریاتو پکې استفاده شوې ده.

**کلیدي کلمې:**

ژبه، Holism، Immanent، جهاني ګرامر(Universal Grammar )، جهاني ژبه، بروکا، ورنیکا، Language acquisition، langue، Parole.

سریزه

ژبپوهنه چې د ژبې علمي مطالعه ده، د ژبو د ډلبندۍ ترڅنګ د ژبو پر ګډو خصوصیاتو هم خبرې کوي، ځکه چې د نړۍ په ټولو ژبو کې یو ډول مشترک خصوصیات شته چې ژبپوهنه ورته د نړیوالې ژبې (universal language) اصطلاح کاروي، په ژبو کې د داسې مشترکو خصوصیاتو له مخې ستر ژبپوه نوام چامسکي داسې اصول وضع کړي دي، چې تقریباً د نړۍ پر ټولو ژبو د تطبیق وړ دي، دا اصول د جهاني ګرامر ( Universal grammar) په نامه یادېږي. ټول انسانان حتی که هغه ډیر کودن هم وي، دومره وړتیا لري چې د کلمو او جملو په واسطه خپل فکر بیان کړي؛ خو د دې خبرې برعکس هېڅ یو حیوان هم دا توان نه لري. یو شمېر فیلسوفان او ژبپوهان په دې اند دي چې د انسان ژبه د حیواناتو د ارتباطي نظام پرمخ تللې بڼه ده، خو نوام چامسکي بیا وایي: داسې باید ونه انګېرو چې د انسان ژبه د حیواناتو د ارتباطي نظام پرمخ تللې یا پېچلې بڼه ده، ځکه چې نوموړی ژبپوه د ژبې پر پیدایښت(emergence) باور لري، نه د ژبې پر تکامل.

چامسکي په دې ټینګ باور لري چې ژبه د انسان د ذهن یوه برخه ده، چې دا نظریه د یو شمېر نور ژبپوهانو لخوا د «creationism» په نامه یاده شوې ده. په دې لیکنه کې پر ژبه عمومي او کلي خبرې شوي دي، چې تر ډېره د معاصرو ژبپوهانو او فیلسوفانو د نظریاتو او څېړنو نچوړ دی.

ژبه language

پاول آلدرسون وايي: هره مسله که څومره هم پېچلې وي، که ورته ځیر شو پېچلې به نه وي. زرګونه کاله کېږي چې ژبه د څېړنو لپاره په زړه پورې موضوع ګڼل شوې ده. دغه څېړنې تر ډېره د ذهني چلندونو پر اساس ترسره شوي دي، چې د ژبې ماهیت او مانا، د ژبې پیدایښت او د ژبې سمې کارونې د فیلسوفانو او ژبپوهانو پام را اړولی دی. د دې ترڅنګ ځینو څېړونکو د ژبې عیني چلندونه لکه، د ژبې ګرامر او د کلمو تلفظ څېړلی او په دې هکله یې دقیقې او منظمې څېړنې کړي دي.

د ژبې په اړه لومړنیو نظریاتو تر ډېره پر طبیعي غږونو ټینګار کاوه چې انسانانو په خپل چاپېریال کې اورېدل. د بېلګې په ډول هغو مرغانو به چې د (caw caw) غږونه کول، په همدې نامه به یې یادول. یا که کوم بل الوتونکي د (cuckoo) غږونه کول همدا طبیعي غږ به یې د همدې الوتونکي لپاره کاراوه؛ د دې نظریې پر اساس د نړۍ په ټولو ژبو کې داسې کلمې شته چې د طبیعي غږنو په اساس تلفظ کېږي او د ژبې د ماهیت او منشا په اړه دې ډول نظریې ته «bow-wow theory» وایي.

سره بېره پر دې نظريې، د ژبې د منشا په اړه لسګونه نورې تيورئ هم شته چې ځينې يې په صريح ډول رد شوی خو د (فزيولوژيکي منشا تيوري) د ژبپوهانو له خوا تاييد او تراوسه ژبپوهانو ته د منلو وړ ده.

افلاطون هم ورته نظر درلود نوموړي د شي او مانا ترمنځ اړيکه طبيعي ګڼله، د افلاطون دا خبره د ژبې په ځو محدودو کلمو صدق کوي او له منطقي پلوه کمزورې ده. ارسطو بيا دا خبره رد کړه او ويې ويل چې د شي او مانا ترمنځ اړيکه  قرار دادي ده، چې د ارسطو دا نظر لا تراوسه هم دتطبيق وړ دی او ژبپوهان  په خپلو څېړنو کې ترې ګټه اخلي.

په لومړي ځل چې د ژبې په اړه څېړني شوې،  ژبې ته له  فلسفي زاويې کتنه شوې. ژبه د ژبې له مطالعې وړاندې موجوده وه او له فلسفي بحثونو بهر وه ؛ خو په لومړيو کې د ژبې مطالعه د کلمې د مطالعې تر تاثير لاندې وه. د مصر پادشاه اخناتون (۱۳۵۸ م-م کې مړ) د ژبې په لرغوني جوړښت کې بدلون راوست او په ژبه کې يې له بدلون سره لېوالتيا وښوده. د بابل برج د جوړېدو پرمهال چې له ديني او افسانوي اړخه د بېلابېلو ژبو د رامنځته کېدو لامل بلل کېږي. د ډول ډول ژبو رامنځته کېدل او د ژبو زېږون د دې باعث شو چې پر ژبې څېړنې او هر اړخيز بحثونه وشي. که د ژبې په برخه کې له لرغوني يونان، روم او مصر څخه راتېر شو او په اوسني عصر کې د ژبې  په باب د فيلسوفانو او  ژبپوهانو غوره نظريات ولولو، اتلسمه ميلادي پېړئ په ځانګړي ډول شلمه پېړئ له ياده نشو ايستلی.

مخکې له دې چې په اتلسمه ميلادي پېړئ  کې د ژبې د فلسفي موضوع مطرح شي، فلسفي فکر د کلمو څرنګوالی، جوړښت او منطقي درک ته پام کاوه؛ خو په اتلسمه ميلادي پېړئ کې  د ژبې په علمي برخه کې د څېړنو ډېره اړتيا احساسېده، په همدې منظور  ډېرو څېړونکو ژبنۍ څېړنې پيل کړې او په دې باب يې ژورې څېړنې تر سره کړې. لومړنۍ هڅې چې په دې باب شوي دي، فيلالوژي (philology)  وبلل شوه،  چې تر ډېره يې د ژبې پر تاريخي تکامل تمرکز کاوه، خو له ۱۹۶۰ ميلادي کال را په دې خوا ژبنيو څېړنو ته ډېره پاملرنه وشوه او د نوې ژبپوهنې په برخه کې داسې بنسټيز نظريات، قواعد او اصول مطرح شول چې په پخواني عصر کې يوازې پرې ابتدايي خبرې شوې وې. اوسمهال د ژبې په باب څېړنې  دومره پراخې شوي دي، چې نورې اړوندې موضوع ګانې هم په ژبنيو څېړنو کې شاملې شوې او د پخوا په نسبت ژبپوهنې د  «Science» په حيث په نورو علومو کې خپل  موقعيت ثابت کړی دی.

دکارت چې د ژبې او ژبپوهنې په اړه مهم نظريات لري، د ژبې په اړه وايي چې ژبه د انسان ځانګړنه او دنده يې د افکارو بيان دی. انسان د دې وړتيا لري په هغو جملو چې له وړاندې يې نه وي اورېدلي، پوه شي او له ځانه نوې جملې توليد کړي په داسې ډول چې نور هم هماغه تعبير ترې واخلي کوم چې د ده هدف دی.

د شلمې ميلادي پيړۍ په وروستيو کلونو کې پر ژبه فلسفي او علمي بحثونه وشول، معاصرې فلسفې ژبې ته د کره کتنې په چوکاټ کې پاملرنه وکړه، امريکايي معاصر ژبپوه چارليز هاکت ژبني نظريات په درې دورو وېشلي دي . نوموړی په دې باور و چې په ژبپوهنه کې درې علمي انقلابه رامنځته شوي دي. لومړی انقلاب د ويليم جونز لخوا رامنځته شوی، دويم انقلاب د فرډينان دوسوسور لخوا او درېيم انقلاب د نوام چامسکي له خوا رامنځته شوی دی، له لومړي انقلاب تېرېږم او له دوو وروستيو انقلابونو څخه د ژبې په باب هغه عمومي نظريات رااخلم چې د دې ليکنې له حوصلې خارج نه وي. فرډينان دوسوسور په ۱۸۵۷ ميلادي کال ژنو کې زېږېدلی. له ماشومتوبه يې د ژبو له زده کړې سره لېوالتيا لرله. په ۱۵ کلنۍ کې يې د « هندو اروپايي ژبو د واولونو لومړنی نظام» تر سرليک لاندې مقاله وليکله او ډېر زيات تشويق شو. په ۱۹۱۳ کې وفات شو او دوو شاګرانو يې، «شارلي بالي» او «البر سه شه يه» له يادښتونو او درسونو په استفادې په ۱۹۱۶ ميلادي کال د سوسور ستر اثر «ژبپوهنې عمومي دوره». چاپ کړ، چې را وروسته ډېر مشهور شو او د سوسور افکار د دې سبب شول چې په ژبپوهنه کې ستر انقلاب وګڼل شي. په دې اثر کې د سوسور ژبپوهنيز فلسفي بحثونه چې په لرغونو دورو کې هم ياد شوي خو سوسور په ډېر لوړ او علمي شکل بيان کړي دي نوموړي د ژبې په اړه په خپلو لکچرونو کې داسې نوې خبرې کړي دي، چې ډېرو بحثونو، مقالو او په سلګونو کتاب ليکنو ته يې زمينه برابره کړه.

فرډينان دوسوسور د نورو ژبپوهانو پرخلاف ژبه په خپل نفس کې مطالعه کوي. د سوسور له نظره ژبه بايد د ټولنې او ټولنيزو طبقاتي توپيرونو له پام کې نيولو پرته مطالعه شي. په دې مانا چې د ژبې په مطالعه کې جغرافيه، فرهنګ، دنده، ارتباطي ونډې او «Pragmatics» په پام کې ونه نيول شي؛ همدې ټکو ته په کتو سوسور درون ګرا(immanent) ژبپوه دی. هغه ژبپوهان چې ژبه له فرهنګ، روان، شناخت، ټولنه، دنده، ارتباطي ونډې، تاريخي تحولات او داسې نورو لاملونو پر اساس مطالعه کوي، هغو ته (transcendent) ژبپوهان ويل کېږي.

د ژبې په اړه سوسور د لید بله ځانګړنه کل ګرايي ( holism) او ذهن ګرايي(mentalism) ده. سوسور د ژبې اجزا يا وړې برخې د يو کل جوړونکي عناصر بولي چې هره وړه برخه په کل کې ځانګړی ځای او ونډه لري. هغه په دې اند و کل (ژبه) يوه ذهني پديده چې د وينا په ډول وړاندې کېږي. کله چې د سوسور له خوا د ژبې په اړه پورتني نظريات مطرح شول په اروپا کې د ژبپوهنې« European Structuralism»مکتب رامنځته شو.

سوسور ژبه (langue)، وينا(parole) او نطق قوه(langage) يو له بله بېل کړي. نوموړی وايي، چې ژبه بايد د نطق له قوې سره يو شان و نه بلل شي؛ ژبه د نطق قوې مشخصه او اساسي برخه ده. ژبه ټولنيزه پديده او د اړينو قراردادونو مجموعه ده چې د ټولنې له خوا منل شوې ده. هغه څه چې ژبه له وينا بېلوي دا دي: ١- ټولنيز او فردی مسايل ژبه له وينا بېلوي.٢- اساسي او فرعي مسايل ژبه له وينا بېلوي. ژبه د ويونکي د کړنو تابع نه ده، بلکې هغه محصول دی چې فرد يې په غير فعاله توګه په ذهن کې ثبتوي. وينا فردي عمل دی او د ارادې او هوش له مخې تر سره کېږي. په وينا کې وړاندې مسايل تشخيص کولی شو. ١- هغه ترکيبونه چې وينا وال يې د ژبنيو کوډونو په وسيله د خپلو شخصي افکارو د بيان لپاره کاروي. ٢- رواني – فزيکي ميکانيسم چې وينا وال ته اجازه ورکوي دغه ترکيبونه په بېروني نړۍ کې عملي کړي.

ژبه د نطق قوې په عناصرو کې يوه مشخصه پديده ده؛ کولی شو دغه عناصر په وينا کې وکاروو چې په هغه کې يو غږيز تصوير له يوه مفهوم سره يو ځای کېږي. ژبه د نطق د قوې ټولنيزه برخه ده، له فرد څخه مستقله چې په يوازې توګه يې نه رامنځته کولی شي او نه هم بدلون په کې راوستی شي. د سوسور په وينا ژبه يوازې د هغو قرار دادونو په پايله کې رامنځته کېږي کوم چې د ټولنې د وګړو تر منځ تره سره کېږي، له بله پلوه شخص مجبور دی چې ژبه په يو ډول زده کړي او له ژبې سره اشنا شي. ماشوم په تدريجي ډول ژبه زده کوي. د سوسور د ژبې (langue) او وينا (Parole) توپير هغه موضوع ده چې بايد بېله بېله وڅېړل شي.

سوسور په دې باور درلود چې وينا (Parole) او مصداق (Referent) په ژبه پورې مربوط نه دي او د دې ادعا لپاره وايي: که د ونې(tree) کلمه په وار وار تلفظ کړو، هرځل تلفظ به يې د مخکيني تلفظ په نسبت مختلف وي. که څه هم موږ يوه کلمه تلفظ کوو، په داسې حالت کې موږ له دوه ډوله ونو(کلمو) سره مخ يو، لومړی د غږونو هغه مجموعه چې موږ او تاسو يې هر ځل په بېل بېل ډول تلفظ کوو، او بل هغه څه چې موږ يې په ذهن کې

لرو. د دغو توليدي توپيرونو سره سره بيا هم موږ ټول په يو واحد شکل ونه درک کوو. سوسور دغه غږيز زنځير «صوت» بولي او دويم يې چې له غږيز زنځير څخه مو حافظې ته سپارلی صوتي انځور يا دال(Sound image) بولي. همدارنګه د صوتي انځور په مقابل کې مانيز انځور يا مدلول (Semantic image) وجود لري چې دا دواړه په ژبې پورې مربوط مفاهيم دي او د معاصرې ژبپوهنې په برخه کې يې تحول رامنځته کړی دی.


په ژبپوهنه کې درېيم انقلاب نوام چامسکي رامنځته کړی دی، نوموړي د جهاني ګرامر (Universal Grammar) خبره مطرح کړه او زياته يې کړه چې ژبه د جملو (محدودو يا نامحدودو) مجموعه ده چې د هرې يوې طول محدود او د محدودو عناصرو له مجموعې جوړه ده. نوموړي په خپل اثر (syntactic structure) کې د دې تعريف په اساس ويلي: ټولې طبيعي ژبې(natural languages) هغه که د وينا په ډول وي او يا هم د ليک په ډول ژبه بلل کېږي، ځکه هره ژبه محدود فونيمونه ( توري) لري. که څه هم د ژبې جملې نا محدودې دي خو بيا هم هره جمله له محدودو تورو جوړېږي، چې په دې توګه چامسکي د جملو مجموعه هم ژبه بولي.

جهاني ګرامر (Universal Grammar) هغه اصطلاح ده چې د نوام چامسکي له خوا د ذاتي ژبنۍ وړتيا تيورۍ ته وکارول شوه او دا هماغه د ژبې د زده کړې ( language acquisition) او د ژبې د زده کړې د پيل پړاو (initial state) تعبير دی. له دې وړاندې چامسکي دغه تعبير د ژبنۍ عمومي نظريې(general language theory) لپاره کارولی و. د يوې ځانګړې ژبې، ژبنۍ پوهه هماغه ده چې چامسکي ورته وړتيا(competence) اصطلاح کارولې ده او دا د يوې ځانګړې ژبې په اړه يوه نظريه ده. کله چې يو ماشوم له محدودو، ناقصو او ناسمو ژبنيو توکو سره مخ کېږي؛ کولی شي ډېرې نا اورېدلې جملې توليد کړي او پرې پوه شي. که څه هم په هره ټولنه کې ژبنی چاپېريال توپير لري خو بيا هم د وګړو د ژبنۍ پوهې ترمنځ ډېر زيات مشترکات موجود دي. ځکه هر ماشوم په يوه متفاوت کورني، ټولنيز او فرهنګي چاپېريال کې را لويېږي.

امريکايي ژبپوه نوام چامسکي په خپل مشهور اثر(syntactic structure) کې د توليدي ګرامر(Generative grammar) نظريه وړاندې کړې ده. په دې نظريه کې ګرامر (grammar) په خپل سنتي او پخواني مانا(صرف او نحوه) نه دی کارول شوی بلکې د ګرامر اصطلاح د يوه شخص ټولې ژبنۍ پوهې ته کارول شوی دی، لکه د يوه پښتون ټوله ژبنۍ پوهه چې په غيرشعوري توګه يې ترلاسه کوي، په هغې کې، فونولوژيکي، صرفي،

نحوي او مانيزه پوهه شاملېږي. د هرې ژبې ويونکي دا ډول پوهه په غير شعوري توګه ترلاسه کوي.

چامسکي له ۱۹۵۰ ميلادي کال وروسته  په ژبپوهنه کې «Rationalism» د فکر او فلسفي د خورېدو لپاره هڅې پيل کړې چې دا په حقيقت کې د علم د ماهيت او سرچينې  په اړه  د افلاطون او دکارت افکارو ته مراجعه وه، له دې کار څخه د چامسکي موخه دا وه چې د «Empiricism»  پر وړاندې يو ډول مبارزه وکړي. «Empiricism » په نولسمه پېړۍ کې په اروپا او د شلمې پېړۍ په لومړيو کې په امريکا کې د علم او په ځانګړي توګه د ژبې د زده کړې په برخه کې مسلط فکر و. د نطق د قوې په برخه کې رشنلستان د تجربه ګرايانو پرخلاف په دې باور و چې ماشوم له زېږېدو سره سم د ژبې د زده کړې په ذاتي وړتيا سمبال دی او ماشوم ته دا وړتيا ورکوي چې ژبه زده کړي،  دا خبره د ټولې نړۍ په ماشومانو کې يو شان ده. په ماشوم کې د ژبې زده کړې ذاتي وړتيا يوازې يوې وړې بځرکې ته اړتيا لري چې دا کار په محيط او چاپېرچال کې د ماشومان په وړاندې د خبرو کولو پرمهال ترسره کېږي. په دې توګه هر ماشوم وړتيا لري چې ژبه په طبعي ډول زده کړي. محيطي عوامل له ماشوم سره مرسته کوي چې ژبه په ښه او عالي شکل زده کړي. د نطق قوه د انسان ذاتي او ژنتيکي ځانګړنه ده.  چامسکي د انسان د نطق قوه د ژبې غړي (Organ)  بولي، چې د چامسکي پورتنۍ خبرې په لاندې شکل کې ترسيمېږي.




ذاتي ژبنۍ پوهه زموږ ژنتيکي ځانګړنه ده؛ موږ ذهن لرو او په ذهن کې ژبنۍ استعداد او يا ژن«Gen» له خلقت راهيسې وجود لري. دا چې ژبې څنګه په ذهن کې ځای نيولی او موږ

څنګه زده کړي       چې وينا توليد او درک کړو؟ هغه پوښتنه ده چې نوام چامسکي د نظرياتو په رڼا کې يې ځوابوو: کله چې ماشوم نړۍ ته راځي، نه وينا کولی شي او نه هم څه درک کولی شي. تر څلور کلنۍ موږ کولی شو اساسي کلمې، نحو( قواعد او ژبنی جوړښت) او د خپلې ژبې تلفظ زده کړو. دغه موضوع په ټوله نړۍ کې يو شان ده، که څه هم ماشومان پېچلي مفاهيم او جوړښتونه وروسته زده کوي، خو په دې عمر کې له ډېرو هغو خنډونو تېر شوي وي چې د ژبې د زده کړې په وړاندې پراته وي.

همدارنګه زموږ مغز د بدن ټول حرکات کنټرولوي او د مغز ښي او چپه خواوې ځانته مشخصې دندې لري. د مغز قشر له دوو برخو جوړ شوی دی چې يوې برخې ته چپه او بلې ته يې ښۍ نميکره وايي. د مغز چپه نيمکره د بدن ښۍ خوا کنټرولوي. که چېرې شخص د مغز په ښي خوا کې سکته وکړي د بدن چپې خوا يې اغيزمنه کېږي د بدن چپه خوايي کنټرول له لاسه ورکوي. مغز او نخاع، مرکزي عصبي سيستم رامنځته کوي، د ملا تير له پاسه بصل النخاع، د مغز پل، مخچه، او د مغز قشر په ترتيب سره پراته دي. دا څلور برخې يو له بل سره تړلي او يو کليت جوړوي. درېم لومړۍ برخې له فزيکي فعاليتونو لکه، تنفس، د قلب ضربان، د حرکت همغږي، غير ارادي غبرګونونه او...تنظيموي. همدا مغز دی چې ټول بدن کنترولوي، حتی  ښي لاسي او چپ لاسي هم په مستقيم ډول د مغز جوړښت او رشد پورې تړاو لري. هغه کسان چې ښي لاسي وي، چپه نيمکره يې په ښي نيمکرې برلاسې وي، دا ډول اشخاص ښی لاس ډېر کاروي او راحته هم وي.د انسان د مغز هره نيم کره ځانته جوړښت او کړنې لري، چپه نيمکره په ټوله کې ژبه، منطقي کړنې، تحليل او عالي رياضيات کنټرولوي.

په مغز کې د ژبني ځای په باب بايد وويل شي، چې په دې برخه کې لا تراوسه د ورنيکا له موډل څخه استفاده کېږي، ورنيکا متوجه شو چې بروکا د مغز يوې برخې ته نږدې ده او هغو عضلاتو سره اړيکه لري چې وينا کنټرولوي. د مغز دا برخه چې ورنيکا پيژندلې وه وروسته بيا د همده په نامه ياده شوه، دا د مغز يوې برخې  ته نږدې هغه ځای دی چې غبريز حرکتونه ترلاسه کوي. ورنيکا په دې اند و چې دا دواړه برخې په يو ډول يو له بل سره په اړيکه کې دي. وروستيو څېړنو هم ثابته کړه چې دواړه برخې يو له بل سره په اړيکه کې دي. د ورنيکه په اند د يوې کلمې په اورېدو سره، د کلمې غږ، د غږ د اورېدو ځای او وروسته ورنيکا ته رسيږي. په لوړ غږ د اورېدل شوې کلمې تکرار غږ بايد بروکا برخې ته ولېږدول شي، وروسته بيا په دې برخه کې وينايېز غړي فعالېږي.  بروکا برخه د مغز له حرکتي قشر سره چې د ژبې د عضلاتو، شونډو او صوتي تارونو کنټرل دنده لري په څنګ

کې واقع ده، چې دا خبره د دې ادعا ثبوت دی چې ژبه ذاتي او ژنتيکي ده او د يو ژن (gen) په توګه زموږ له خلقت راهيسې موږ سره ده او يوازې د ټولنې سره د ارتباط په صورت کې هغه «ژن» فعاليږي او په دې ترتيب معلومات د ذاتي ژبني استعداد په چوکاټ کې داخليږي.

پايله

د ژبې په اړه لومړني نظريات په طبيعي غږونو ټينګار کوي، افلاطون هم ورته نظر درلود چې په منطقي لحاظ د ژبپوهانو له لوري کمزوری نظر وبلل شو. ارسطو د افلاطون خبره ردوي او پر ځای يې د قرارداد خبره مطرح کوي، چې لا تر اوسه ژبپوهانو ته د منلو وړ نظر دي. له لرغوني يونان را وروسته، روم او مصر، هند او... هم د ژبې په اړه بېلابېل نظريات لري، خو په اتلسمه ميلادي پېړۍ کې په ځانګړي ډول شلمه پېړۍ په ژبنيو څېړنو کې ځانګړي ځای او ارزښت لري. د شلمې ميلادي پېړۍ په نيمايي کې ژبنيو څېړنو ته ډېره پاملرنه وشوه او د معاصرې ژبپوهنې علم رامنځته شو. معاصرې فلسفې ژبې ته د نقد له زاويې وکتل. د شلمې ميلادي پيړۍ په وروستيو کلونو کې پر ژبه علمي او فلسفي بحثونه وشول، چې د هغو له جملې د فردينان دوسوسور نوم د يادونې وړ دی، هغه ژبه په خپل نفس کې مطالعه کړه او بېروني عوامل يې له پامه وغورځول. د سوسور له نظره ژبه بايد د ټولنې او ټولنيزو طبقاتي توپيرونو په پام کې نيولو پرته مطالعه شي. همدا راز د ژبپوهنې معاصر تيوريسن نوام چامسکي بيا په ذاتي ژبنۍ وړتيا ټينګار کوي چې چامسکي ورته (competence) اصطلاح کاروي. په ټوليزه توګه چامسکي په دې نظر دی چې ماشومان د ژبې د زده کړې په برخه کې په ناګهاني ډول د مشرانو د ژبې په ګرامري جوړښت تسلط پيدا کوي. ماشوم له زيږېدو سره هم مهال ځان له ژبې سره همغږی کوي او د يوې مياشتې په جريان کې ځينې غږونه توليدوي. په شپږ مياشتينی کې ځينې مانادار غږونه کوي، په يو کلنی کې د کلمو توليد پيلوي، له يو نيم کلنې وروسته دوه دوه کلمې سره يو ځای کوي او همداسې وروړ ورو مخته ځي او پوره ژبه زده کوي...

ماخذونه


1. An Introdution to psycholinguistic;D.Steinberg. New York -1993
2. Cf. Dittmar, Sociolinguistics,london1976-
3. the study of language(An introduction),George Yule-

4. سوسور، فردينان. ژ: صوفي، کوروش. (۱۳۹۶). دوره عمومي زبان شناسی عمومی. تهران. هرمس انتشارات.
5. سوييټ، هنري. ژ: صوفي، کوروش.( ۱۳۹۷). تاریخ زبان.. تهران: علمي خپرندويه ټولنه.
6. صفوي، کوروش. (۱۳۹۲). زبانشناسی و ادبيات.تهران: نوبهار انتشارات.
7. مقدم، محمد دبیر.(۱۳۹۶). زبان شناسی نظری. تهران: سمت انتشارات.
8. صاحب، ارغند.(۱۳۹۶). مانا پوهنه. کابل: پکتوس خپرندیونه ټولنه.